څوك د جنګلي سره نزدې ولاړ
درود سلام وائې ذكرونه كوي
څوك مدينه كښې سلامونه كوي
څوك په مكه كښې قدمونه اخلي
څوك مدينه كښې قدمونه اخلي
ډير په كښې ځائے په ځائے نفلونه كوي
څوك مدينه كښې سلامونه كوي
څوك د صديقؓ عمرؓ په څنګ ولاړ دي
څوك د اسلام په ښكلي رنګ ولاړ دي
خلق په جمع تول مونځونه كوي
څوك مدينه كښې سلامونه كوي
څوك په مكه كښې پاتے كيږي اوسي
څوك مدينه كښې پاتے كيږي اوسي
په اطمينان په كښې خوبونه كوي
څوك مدينه كښې سلامونه كوي
څوك د صفا مروه په غر باندې دي
باب السلام سره څوك در باندې دي
غواړي د ربّ نه دوی سوالونه كوي
څوك مدينه كښې سلامونه كوي
دغه منظر احمده! ډير دے ښكلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 196 ﴾

خــلــق دی تــول د مــديــنــي خــوشــحــالــه
دلتــه وختــونــه ورځــې شپــې خــوشــحــالــه
دلتــه خــويــونــه پــه آرام ســره دی
تــول قــدمــونــه احتــرام ســره دی
خــلــق دی تــول د دې کــوځــې خــوشــحــالــه
خــلــق دی تــول د مــديــنــي خــوشــحــالــه
دلتــه کــړی قــدر د وختــونــو خــلــق
د ربَ مــولــیٰ د نــعتــمــونــو خــلــق
نــزدې دی خــلــق د روضــې خــوشــحــالــه
خــلــق دی تــول د مــديــنــي خــوشــحــالــه
دلتــه صــديــقؓ دلتــه عــمــرؓ اُوسيــږی
دلتــه عثــمــانؓ، عــلــی حيــدرؓ اُوسيــږی
روضــې ســره خــواتــه جــنــګــلــې خــوشــحــالــه
خــلــق دی تــول د مــديــنــي خــوشــحــالــه
دا د قســمــت او د تــقــديــر فيــصــلــه
دا د دنيــا د ربَ خبيــر فيــصــلــه
دلتــه د هــريــو درزَمې خــوشــحــالــه
خــلــق دی تــول د مــديــنــي خــوشــحــالــه
دا د احــمــد ويــنــا د خــونــد نــه ډکــه

